مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

استاد شهسوار سنګروال ۲۰۲۰/۱۲/۲۰

# د غزنویانو او غوریانو د واک په مهال
## (یوشمېرسیمه ییز قومونه او ټبرونه)

غزنویانو د یوه مرکزي حکومت د ټینګښت لپاره د کابل شاهان، د ملتان لودیان، د غزني لویکان، د غور سوریان، د تخار باینجور کورنۍ، نور سیمه ییزې پاچي شوني (لکه حارث چي ۲۷۲ – ۲۳۹ هـ حکمران وه سکه یې هم په نوم وهل شوې وه او د باینجور لمسی کېده.)، د غرستان شاران چي د دې کورنۍ یو واکمن «شار رشید» وو چي په ۳۸۹ کال یې غزنوي محمود ته غاړه کېښوده، د سیمجوریانو واکمن ابوالحسن د ابو علي سیمجوري زوی هم تسلیم شو او یو شمېر نورې کورنۍ او شخصیتونه چي د سیمه ییزو واکمنانو په ډله کې راتلل د ځان تابع کړل.

خو د غزنویانو او غوریانو تر مېنځ هغه مهال کړکېچ زیات شو چي غزنوي واکمن بهرامشاه د غوریانو یو نامتو مشر قطب الدین محمد، چي د غرشاه لقب یې خپل کړی وه په ډېرې ناخوانۍ او په ډېر بد چلند وواژه.

د حسین زوی علاو الدین چي د غور په وجیرستان کې حکمران وو، وورو یې غزني ته په لاره چي کله ومړ نو د غور په تخت کېناست او د خپلو دوه ورونو د غچ او کسات د اخستلو لپاره د یوه ستر لښکر پر مټ د غزني په لور وخوځېد او په ګرمسېر او تګین اباد کې د بهرامشاه له لښکرو سره لاس او ګرېوان شو. په پای کې نوموړي ماته وخوړه او علاوالدین غزني ته ننووت دا ښکلی ښار یې و سوه ځوو او وروسته یې د بست لرغونی ټاټوبی له خاورو سره خاورې کړ.

جهانسوز علاوالدین چي بیا د سنجر له لښکرو نه مات شو او د نوموړي په لاس کېووت ولي سنجر دی له بنده ازاد کړ او له پرېښودو وروسته بېرته غور ته ستون شو.

سلطان علاوالدین بیا خپل پوځ منظم کړ او ډېر ژر یې له تخارستانه نیولي تر بامیانو او ان هرات پورې ټولي سیمي یو د بل پسي ونیولي چي په پای کې «۵۵۰ هـ» کال مر شو.

د غوریانو په کورنۍ کې کوم تن چي ډېر نامتو وه هغه سوري سیف الدین وه چي د سلطان لقب یې د ځان لپاره هغه مهال غوره کړ چي د خپل وورور قطب الدین د کسات اخستو لپاره بهرام شاه ته ماته ورکړه او د غزني په تخت کېناست او وورور یې علاوالدین حسین له غزني نه غور ته ولاړ، خو بهرام شاه د غلجو پښتنو په مټ غزني بیا ونیوه او سلطان سوري سیف الدین یې ووژه.

په غور کې د مېشتوقومونوپه لړکې یو هم سوري ټبر وه، که څه هم په دې تړاو یوښتني شتون لري چي ایا د دوی اصلي ټاټوبی غور وه او که د هېواد بله کومه سیمه؟

د هېواد نامتو تاریخپوه احمد علي کهزاد کښلي دي:

«هغه مهال د بامیانو لرغوني سیمه د تخارستان  پلازمېنه ګڼل کېده غوري شنسبیانو له تخار نه را واخله (بدخشان، بلخ، قطغن د تخارستان برخي وې) تر کابل، د هېواد ختیځې سیمي ان تر کشمیره پورې خپله واکمني پراخه کړې وه.»

دا چي سوریان هغه مهال د یوې پراخي واکمنۍ څښتن وه نو  هرومرو د دوی شتون له یادي شوې نېټې نه سلګونه کاله د مخه هم یقیني دي «د اسلام د سپېڅلي دین له خپرېدو د مخه یو شمېر خپلواکه حکومتونه په غور کې موجود وه چي موږ همدغه د سوري (زوري) ټبر د بېلګې په توګه یادولی شو چي په تخارستان، هرات، سیستان او خراسان په ځمکو حکومت کړی دی»

لرغون پوهان پدې اند دي چي سوریانو (زوریانو) یو افسانوي مشر درلود چي د «ضحاک» په نوم یادېده چي فردوسي هم په همدې نوم یاد کړی دی خو په سوري تاریخ کې «سهاک» بلل شوی دی.

«ښکه چي په لرغوني تاریخ کې بخدیم د شاهانو د واک او ځواک پلازمېنه وه دا رنګه په غور کې هم پاچاهان د دارنګه واک څښتن وه او د همدې جغرافیوي جوړښت له مخي واک ته رسېدلي دي چي د ساري په دول «سام» او «سوري» امیران یادولی شو.»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې وګړو په تېر باندې سوونه سوونه کاله له دې د مخه تېر شوي دي چې يو شمېر يې بيا د شمېر د زياتوالي له کبله او يو شمېر نور يې د جګړو له امله کډوالۍ ته اړ شوي دي. «افغانان په غور کې «۲۱۲ هـ» دومره زيات شول چې په غور کې نه ځائېدل او د روايتونو له مخې په پنځو څانګو ووېشل شول، چې بيا له غور نه را ووتل په هرات، کندهار، غزني کې خپاره شول.»)

د غزنويانو د واکمنۍ په مهال چې کومې جګړې د پښتنو او سبکتګين لخوا او بيا وروسته له ده څخه پېښې شوې دي يو شمېر پښتانه دېته اړ شول چې خپل نيکنی ټاټوبی پرېږدي چې اوس هم په يو شمېر پښتنو کې دغه اصطلا وې کارول کېږي: «غور نيکه دې څوک دی؟ د «غور نيکه دې لاس خلاص»...

د غور د شاهي کورنۍ په نوميالیو کې چې د يو شمېر واکمنو پلازمېنه «فېروز کوه» وه چې د هېواد ډېرې سيمې يې د خپلې پلازمېنې پورې تړلې وې يو هم سوري (۴۰ هـ) شنسب وه.

که چېرې موږ پيل له سوري شنسب نه وکړو او بيا يې په علاوالدين مسعود د شمس الدين محمد (۶۱۲ هـ) په زوی پای ته ورسوو نوويلی شو چې د غوريانو له دوه دېرش (۳۲) نه زياتو پآچاهانو نه يوازې په اوسني افغانستان حکومت کړي دی بلکې د سيمې په يو شمېر هېوادونو چې له فارس نه را واخله تر هندوستانه پورې پراته وه حکومت کړی دی.

که څه هم له شنسب نه پخوا يا نې د اسلام له دين نه د مخه د غوري له سوري پاچاهانو څخه د امير «بستام» او امير «شماخ» سوري پاچاهانو نومونه هم د پام وړ دي خو د اسلام د سپېڅلي دين له خپرېدو وروسته بيا همدغه سوريان له غور نه ان تر هندوستانه پورې ورسېدل.

## غوريان د هند په لور:

د غور واکمنې کورنۍ د هېواد هر لوري ته د خپل واک د پراختيا او پرمختيا په موخه ډېرې هاندې هڅې وکړې چې د اوسني افغانستان له بريد نه پورې وتل له پارس نه تر هندوستانه پورې ورسېدل.

غوريانو د هندوستان په بېلابېلو سيمو خپله واکمني ټينګه کړه چې موږ په دغه لړ کې، پيل له غوري شهاب الدين نه کوو.

غوري سلطان شهاب الدين محمد د خپل ورور غياث الدين په څېر د اسيا په زړه کې د يوه لوې هېواد ساتنه وکړه چې څلور خواوې داسې وې:

شمال ته د مينځنۍ اسيا د يو شمېر هېوادونو ځنې سيمې، سهيل ته عرب سمندرګی، لوېديځ لور ته خراسان تر پايه پورې او د هېواد ختيځ لور ته ګنګا او د شمال ختيځ هند يو شمېر سيمې يادولی شو چې تر خپلې ولکې لاندې يې راوستې.

غوري شهاب الدي چې په ۱۱۹۲ زېږدي کال د هند د نيولو په نيت وخوځېد، لاهور يې ونيو او قطب الدين ايبک يې د هغه ځای حکمران وټاکه ولې له دې وړاندې بريالی نشو.

سلطان محمد معزالدين غوري بل ځل په ۱۱۹۳ ز کال بيا پر هند بريد وکړ خو دا ځل يې د راجپوتانو واکمني ړنګه کړه ډيلي او اجمير يې لاندې کړ.

قطب الدين ايبک د خپل سلطان په سپارښتنه لومړی يې په هند کې د يوه منظم قانون د جوړېدو هڅه وکړه . د غوري شهاب الدين همدې حکمران د يوه تاريخي څلي بنسټ هم کېښود، چې قطب منار يې بولي او د منار په انګړ کې د سلطان په ښودنه يو جومات هم ودان شو.

غوري شهاب الدين دوه کاله وروسته يو ځل بيا هند ته لاړ او د قنوج راجا «جې چند» ته يې ماته ورکړه او قطب الدين ايبک يې ګجرات، ګواليار او بيانه ته ولېږه.

د سلطان بل نامتو حکمران بختيار خلجی يې بېيار او بنګاله لور ته واستوه، چې د همدې فتوحاتو او بريو له کبله غوري شهاب الدين د يوه اسلامي حکومت بنسټ کېښود. مفتي محمد پالن پوري د «تاريخ هند» مؤلف ليکي چې «دهندوستان داسلامي سلطنت باني شهاب الدين محمد غوري دی.»

غوري سلطان په ۶۰۲ هـ (۱۲۰۶ ز) کال هند ته بيا سفر وکړ چې د کوکرانو بغاوت ته د پای ټکی کېږي. د کوکرانو له ماتې وروسته کله چې سلطان د غزني په لور وخوځېد د جېلم د سيند په غاړه د يوه اسماعيلي فدايي له لاسه په ۱۲۰۶ ز کال د مارچ په ۱۵ نېټه شهيد شو.

که څه هم يو شمېر څېړونکي انګېري چې غوري شهاب الدين د ملا حده له لاسه په «ميک» نومي ځای کې په ۶۰۲ هـ ق کال (۱۲۰۶ ز) شهيد شويدی .

،د غوري سلطان له شهادت نه وروسته دغه لويه ټوله واکمنۍ دړې وړې شوه، چې د افغانستان ختيځه برخه له غزني نه تر سينده پورې تاج الدين يلدوز په لاس کې پرېوته، چې د غوريانو د دربار يو باوري خدمتګار وه. د يلدوز يوه لور د هند حکمران قطب الدين ايبک ته او بله لور يې د سند حاکم ناصرالدين قباچه ته واده کړه.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولۍ

د غوریانو په مهال د اسلام دین د افغانستان او د هند نیمي وچي ډېرو سیمو ته ورسېد.جماعتونه هم ودان شول یو شمېر تاریخي ودانۍ او مدرسې هم جوړې شوې . لکه د هرات تاریخي جمات، د غور «جام منار» او دهند په پلازمېنه زاړه ډیلي کې قطب منار یادولی شو.
د غوریانو د مهال نه دمخه او وروسته ډېر پېښتانه له غور نه کډه شول د افغانستان نورو سیمو ان اوسنۍ جغرافیې نه بهر نورو ملکونو ته لاړل لکه د سلیمان غرونو شاوخوا، ترنک، ارغنداب، هلمند، هریرود، پارس، کوټه، پېښور، ملتان او د هند یو شمېرنورې سیمې یا دولی شو، چې بیا یې د یو شمېر ریاستونو او نوابیو بنسټ هم کېښود.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ